


## محب الرحمن « خطيبي »



د نشر نېټه : ۱ سپتمبر ۲۰۱۳ میلادی


# ښکار .....

ښکار روان دی ،
زما په وطن روان دی ښکار
ښکارچی معلوم دی
ډیر هوښیار دی
هم ظالم او بی وقار دی
تور دی، سترګی یی سپینی دی
وایی ښه ښکار دی

وایی
" زما د ښکار ځنګل دا ملک دی -
زه دا ملک پخپل خلکو یی ښکار کووم ."
" ناست پر زنه ورته ګورم -
خاندم ، هو کله نا کله ژاړم ،

ځان سره وایم :
آیا داسی بی عقله خلک هم شته -
چی خپل ځان پخپله وژنی،
چی خپل کور پخپله ورانه وی ؟
زه ښکارچی یم
نفاق زما اسلحه.
ګوره هلته !

گريوان په گريوان دی
څومره بی عقله او نادان دی

هغه وينی ؟
هغه چی خـــراسان وايی
هغه بل ته گوره
اوغانستان وايی

دابل
دابل وايی پښتون يم ملک زما دی .
زما ښکار پخپله خپل ځان تباه کوی
ما د دوی ماغزه ښه وينځلی دی
د نفاق تخم می پاشلی.
زه ورته ناست يم
ننداره کووم
ډرامه روانه ده

غلا ده
دروغ وايل او خيانت دی
بس يو بل نابودول دی
دا زما ښکار دی
دا زما کار دی......"

*****

محب الرحمن « خطيبي »

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org